بسم الله الرحمن الرحیم

# د نوي اساسي قانون د مسودې د خپرېدو په مناسبت
# د افغانستان د انتقالی اسلامی دولت د رئیس
# پیغام

خوشحاله یم چې د لوی ځبنتن په مرسته د افغانستان د نوي اساسي قانون د مسودې بشپړ متن د تسوید او تدقیق د پړاوونو تر تېرولو وروسته ، د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د یوې مهمې او سترې بریا په توګه د هیوادوالو د خبرتیا لپاره خپرېږي.

**ګرانو هیوادوالو!**

څنګه چې اساسي قانون زموږ ملي وثیقه ده او د هېواد د خلکو د ملي، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سرنوشت ټاکل او انتظام په اساسي قانون پورې اړه لري ، نوزه هیله لرم چې په داخل او خارج کې میشت افغانان دا مسوده په ډېر دقت او غور سره ولولي او خپل جوړوونکي نظریات د اساسي قانون د تدقیق کمیسیون ته وسپاري. څومره زیات افغانان چې د مسودې د محتوی په باب خپل نظرونه څرګند کړي. هغومره به دا مسوده بډایه، غني او دعامه افکارو څرګندویه شي.

د اساسي قانون د مسودې د نشر له امله، د اساسي قانون د تدقیق د کمیسیون ټولو غړیو او کارکوونکیو ته مبارکي وایم.

**حامد کرزی**

**رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان**